دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان یې ټینګ نیولي چې دځمکه له اجازی پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړی بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۳۵ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۹ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لیندۍ ۱۱ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۹ مه د۲۰۱۴ م د دسمبر ۲ مه

د اجراییه ریاست لومړی مرستیال:
د خصوصي پوهنتونونو او خصوصي ښوونځیو مسؤولین باید د کمیت پرځای کیفیت ته توجه وکړي

شهادت، کابل:
د افغانستان د خصوصي پوهنتونونو او ښوونځیو د تولنې استازو د اجراییه ریاست له لومړي مرستیال سره ولیدل.
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اجراییه ریاست مطبوعاتي دفتر خبر ورکړ:
دغه لیدنه چې د دوشنبې په ورځ د وزیرانو شورا په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه؛ پوښمېر خصوصي پوهنتونونو او ښوونځیو استازو د اجراییه ریاست له لومړي مرستیال سره د لیدنې پرمهال د ملي وحدت له حکومت څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ.
د کابل د ترپوال ښوونځي د امتیاز خاوند قاضي غلام سخي د اجراییه ریاست لومړي مرستیال ته داډ ورکړ، لکه څنګه چې په تېرو دورو کې مو ستاسو ملاتړ او همکاري کړې ده له دې وروسته به هم د ملي وحدت د حکومت په رامنځ ته کېدو سره ستاسو بشپړ ملاتړي وو.
ده د اجراییه ریاست لومړي مرستیال ته د خپلو لاسته راوړنو د بیانولو په ترڅ کې وویل چې دوی د خصوصي ښوونځیو لپاره تقویتي نصاب جوړ کړی چې د پوهنې وزارت د نصاب د ادراې لخوا تایید شوی هم دی.
د ده په وینا د دې ترڅنګ یې د ښوونیز نظام رسمي نصاب انګلیسي ژبې ته اړولی دی چې سر له راتلوونکي کال څخه به په ټول هېواد کې پلی شي.
دغه راز هغه ډاډ ورکړ چې د دې ترڅنګ یې د خصوصي ښوونځیو لپاره... (۴ مخ)

انتخابات ریاست جوانان حزب اسلامی در ولایت کندز برگزار گردید

شهادت، کندز:
روز جمعه مورخ ۷ قوس ۱۳۹۳ در دفتر ولایتی حزب اسلامی در شهرکندز جلسه مسؤولین جوانان ولسوالی های شش گانه و مرکز کندز دایر گردید.
درین جلسه علاوه بر مسؤولین جوانان تعدادی از اعضای اجرائیه حزب اسلامی در ولایت کندز و رئیس عمومی جوانان حزب اسلامی اشتراک نموده بودند.
جلسه ساعت ده بجه قبل از ظهر با تلاوت قرآن عظیم الشان توسط قاری نصرت الله آغاز گردید. بعد از ان سید اسدالله سادات رئیس دفتر حزب اسلامی و عضو شورای ولایتی کندز در مورد فعالیت ها و دست آوردهای حزب اسلامی در ولایت کندز صحبت نمود. نامبرده پیروزی خود را در شورای ولایتی نتیجهٔ تلاش های اعضای حزب تلقی نمود.
متعاقباً قاضی عبدالرحمن عضو شورای اجرائیه حزب اسلامی در ولایت کندز راجع به مسؤولیت‌های جوانان سخنرانی نمود و جوانان را به مسؤولیت های شان در قبال... (ص، ۳)

ولسمشر غني او اجراییه رئیس به له ناټو او غړو سره یې د افغانستان د اړیکو په اړه خبرې وکړي

کابل، رسنۍ:
د ملي وحدت د نوي حکومت مشران اروپا ته په سفر وتلي دي څو د سولې او د افغانستان د اقتصادي رغونې په اړه اروپايي متحدانو ته خپل پلانونه وښيي. دوی به د دې سفر په وسیله نړیوالو ته د خپل یووالي د ښودلو هڅه وکړي.
ټاکل شوې چې ولسمشر محمداشرف غني او د حکومت اجراییه مشر عبدالله عبدالله اروپا ته د سفر په پیل کې په بروکسل کې د ناټو له مرکزي قرارګاه څخه لیدنه وکړي.
دواړه مشرانو پرون په بروکسل کې د ناټو له عمومي منشي "ینس ستولټنبیرګ" Jens Stoltenbergسره وکتل او نن به د ناټو د غړو هېوادونو د بهرنیوچارو د وزیرانو په غونډه کې ګډون وکړي.
د دولت د ریاست مرستیال ویاند وایي چې افغان مشران به د ناټو له مشرانو سره په کتنو کې د افغانستان د درېځ او د دې تړون له غړو هېوادونو سره د اړیکو په اړه خبرې وکړي.
ولسمشر غني وویل چې د ناټو له مشرانو سره په کتنو کې به د راتلونکې په اړه په ډاډ خبرې وکړي. ده زیاته کړه چې له ناټو او امریکا سره د افغانستان په اړیکو کې اوس هیڅ شک نه دی پاتې.
ناټو وایي، په افغانستان کې د خپلو لاس ته راوړنو ساتنه چې په تېرو نژدې دیارلسو کلونو کې ملیاردونه ډالر پرې لګېدلي ورته مهمه ده.
د ناټو یوه ویاند کریس چمبرز فرانسپرس خبري آژانس ته ویلي دي چې افغانستان د نړیوالو تروریستانو لپاره نور خوندي ځای نه دی او د افغان ځواکونو... (۴ مخ)

چالشهای امنیتی، فساد اداری و فرهنگ سرپرستی

ف، فایض

گرچه بقول شاعر: «کس نگوید که دوغ من ترش است» ولی باز هم به تعبیر شاعر: «لیک رندان چشیده می گیرند». انتخابات شفاف و عادلانه به هر صورت وظیفهٔ کمیسیون انتخابات بود؛ ولی انتخابات سر وصدای زیادی را با خود بهمراه داشت و نتیجه آن شد که نتایج دور دوم انتخابات با بنبست مواجه شود تا آنکه توافق برسر تشکیل حکومت وحدت ملی یخهای اختلافات را ذوب نمود. انتقال قدرت بصورت مسالمت آمیز صورت گرفت، ریاست اجرائیه طبق توافقات بعمل آمده تشکیل شد؛ ولی تشکیل کابینه زمانگیرشد. همین عامل و عوامل متعدد دیگر باعث شد که با روی کار آمدن حکومت... (ص، ۲)

د مخابراتو وزارت د اترا مرستیال او د الکترونیکي تذکرو رئیس د اجرائیه ریاست له لومړي مرستیال سره ولیدل

شهادت، کابل:
د مخابراتو وزارت د اترا مرستیال عبدالوکیل شیرګل او د مخابراتو وزارت د الکترونیکي تذکرو د ځانګې رئیس عبدالمجیب مهمند د دوشنبې په ورځ (د لیندۍ په ۱۰مه) د افغانستان د اسلامي جمهوریت داجرائیه ریاست د لومړي مرستیال انجنیر محمد خان سره په مرمرینه ماڼۍ کې وکتل.
د اجرائیه ریاست د مطبوعاتو دفتر خبر راکوي چې په دغه لیدنه کې د الکترونیکي تذکرو د توزیع او پر نورو اړوند چارو خبرې وشوې.
د مخابراتو وزارت مرستیال او د الکترونیکي تذکرو رئیس خپل وړاندیزونه د اجرائیه ریاست له لومړي مرستیال انجنیر محمد خان سره شریک کړل.
د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال د نوموړي د وړاندیزونو له اورېدو وروسته د مخابراتو وزارت مرستیال وزیر او د الکترونیکي تذکرو رئیس ته لازمې لارښوونې وکړې.

حمله انتحاری در مراسم تشیع جنازه در بغلان ۹ تن را کشت

بغلان، رسانه ها:
مقامات محلی در ولایت بغلان در شمال کشور می گویند که یک بمب گذار انتحاری مواد انفجاری حاملش را در جریان برگزاری تشیع جنازه، انفجار داده است. جاوید بشارت، سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت بغلان میگوید که... (ص، ۴)

شمار بیماران ایدز در افغانستان از مرز ۱۶ هزار نفر گذشت

کابل، رسانه ها:
مقامامت وزارت صحت عامه کشور اعلام کرده اند که شمار بیماران ایدز در کشور به ۱۶ هزار و ۹۴ نفر می رسند در حالکیه گفته می شود شمار بیماران که ثبت نشده بیشتر از این رقم باشد.
احمدجان نعیم، سرپرست وزارت صحت عامه می گوید که تزریق غیر بهداشتی به ویژه در میان معتادان به مواد مخدر عامل عمده شیوع این بیماری در افغانستان است.
به گفته او، عوامل دیگری نیز مانند جنگ های طولانی، فقر، بی سوادی، کشت و مصرف مواد مخدر و مهاجرت ها باعث شیوع این بیماری در کشور شده است.
آقای نعیم این موضوع را روز دوشنبه به مناسبت روز جهانی کنترول اچ آی وی مطرح کرد. به گفته نعیم، رقم بیماران... (ص، ۴)

اکسپرس تریبون:
اشرف غني له طالبانو سره پټې خبرې پیل کړې دي

په جمهوري ریاست کې یو شمېر باخبره سرچینو د پاکستان (اکسپرس تریبون) ته ویلي، چې ولسمشر اشرف غني له طالبانو سره پټې خبرې پیل کړې دي.
د یادې ورځپاڼې د رپوټ له مخې، ډاکټر اشرف غني هڅه کوي، چې طالبان هم په واک کې ورګډ کړي او غواړي له دغه لارې په افغانستان کې امنیت رامنځته کړي.
رپوټ زیاتوي، چې دغه مذاکرات د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې تر سره کېږي او په دې هکله مالومات د اشرف غني نږدې کسانو دوی ته... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د مشرانو جرگې ناوخته گواښ

امریکا او ناټو چې په کوم نامه افغانستان ته راغلل، نو دهغې لامل هغه څه وښودل شو چې پخپله امریکا وویل؛ یعنی له ترهگرۍ سره مبارزه؛ خو متأسفانه ترهگري تراوسه نه امریکا تعریف کړه، نه ناټو او نه هم ملگروملتو. په سیاسي فرهنگونو کې هم چې د ترهگرۍ کوم تعریفونه راغلي دي، هغه هم یوه خوله نه دي او داهم نه ده معلومه چې امریکا اوناټو او دغسې ملگروملتوته کوم تعریف دمنلو دی؛ خو امریکا چې افغانستان او سیمی ته راتله او بیایې دناټو پښه هم په ځان پسې راکاږله، په کار داوچې د ترهگرۍ یو روښانه تعریف یې وړاندې کړی وای. امریکا ترهگري تعریف نه کړه او دا څوارلسم کال دی چې دلته د ترهگرۍ پرخلاف دجگړې په نامه جگړه روانه ده. که دوی هرڅوک وژني دترهگر نوم پرې کښېږدي، په دې کې د واده پرمراسمو بمباری وشوې، د خیراتونو پر مراسمو وشوې؛ ښځې، سړي، اتیا کلن او نوي کلن بوډاگان اوان چې د اورني کوچنیان په کې ووژل شول، ایا هغه هم ترهگروو؟

که نه و؛ نو بیایې باید پوښتنه له چانه وشي؟ عجیبه ده چې په لویدیځ کې خو بیا هر افغان او ان چې هر مسلمان د ترهگر په نامه پیژندل کیږي، دا دهغې تبلیغاتي څپې اغیزې دي چې په غلطه کیږي. افغان یعنی ترهگر؛ خو هیچا هم داونه پوښتل چې افغان ولې ترهگر؟ وژل کیږي هم افغان او ترهگرهم افغان! داغلط تأثر څکه خپور شو چې چا د ترهگرۍ پرخلاف جنگ روان کړی، ترهگري یې تعریف نه کړه.

په دې لړ کې د افغانستان او امریکا او همدغسې دافغانستان او ناټو ترمنځ د امنیتی هوکړه لیکونو اړتیا پیدا شوه؛ خو دی هوکړه لیکونوته دچا اړتیاوه؟ که چېرې دا اړتیا د افغانستان وای، بیا خو نوباید افغان دولت د امریکا او ناټو زنې نیولای چې له موږ سره امنیتی هوکړه لیک لاسلیک کړئ او زموږ له خاورې مه وځئ؛ همدا تاسې یاست چې له موږ نه دفاع کوئ او که تاسې ولاړئ؛ نو گاونډیان به مو خام وخوري؛ خو اوس خو خبره سرچپه ده. دا د امریکا او ناټو اړتیاوه چې په افغانستان کې پاتې شي؛ اډې ولري او خپل نظامي حضور وساتي. د همدی له پاره همدوی وو چې پر افغانانو یې فشار راووړ چې ژرشئ دا هوکړه لیک راسره لاسلیک کړئ او تر راتلونکو لسوکلونو پورې زموږ حضور باوري کړئ او که دا نه کوئ؛ نو هرڅه دربانديې دروو.

د افغانستان نوي دولت داهوکړه لیکونه لاسلیک کړل (۱۳۹۳/ ۸/۷) ورپسې ولسې جرگې تأیید کړل. (۱۳۹۳/ ۹/۲) بیا مشرانو جرگې پرې د تأیید مهر ولگاوه (۱۳۹۳/۹/۶) او پر (۱۳۹۳/۹/۹) نېټه ولسمشر بیا توشیح کړ چې په دې توگه دې هوکړه لیک یوه قانوني بڼه خپله کړه چې باید په رسمي جریده کې خپورشي.

ددی هوکړه لیکونو لاسلیک ضرورت که مجبوریت وگڼو؛ خو لاسلیک شوی؛ خو اوس خو ولس داحق لري چې له لاسلیکوونکو او تأییدوونکونه وپوښتي چې څه مو ورکړي او څه مو ترلاسه کړي؟ ددې هوکړه لیک ترلاسلیکه وروسته په ټول هېواد کې جنگونو زور واخست او دلسگونو او سلگونو افغانانو وینې وبهېدې؛ نه یې چا پرغم وژړل، نه چا د غمجنو کورنیو اوښکې پاکې کړي، نه رسمي مقاماتو دغه پېښې وغندلې؛ بس یو مرگونی سکوت دی او هیڅوک هم دانه وایي چې ولې دا پېښې رواني دي. بس یواځې رسنۍ دي چې په دې اړه ترڅه بریده خپل ملي مسؤولیت سرته رسوي.

ددغو پېښو ترشاه دچا لاس دی. په داسې حال کې چې دکورنیو چارو وزارت وایي چې د افغانستان جنگ یو پیچلی او منطقوي استخباراتي جنگ دی، بیا خو به دا له مسؤولیته دمسؤولو مقاماتو تېښته وي چې هرڅه پېښ شي، فقط هغه د «الابلا بگردن ملا» په حکم همغه یو لوری مسؤول وگڼي، موږ نه وایو چې هغوی په دغسې پېښو کې شریک نه دي، خو که دایوه پیچلې استخباراتي جگړه بولو چې ده هم؛ نو دا حقیقت هم باید ومنو چې دا یواځې منطقوي استخباراتی جگړه نه ده؛ بلکې په دې جگړه کې د منطقی نه ور اخوا لاسونه هم شریکیداي شي، دکورنیو جگړه مارو ترشا گاونډیان دي او دگاونډیانو ترشا نړیوال نهنگان؛ خو کاشکې زموږ هم دولت، هم ولسي جرگې او هم مشرانو جرگې خپل سرونه پر دغه سناریو خلاص کړي واي او بیایې پر امنیتی هوکړه لیکونو لاسلیک کړی وای چې لږ ترلږه خو مو گریوان د گاونډیانو له خونړیو پنجونه خلاص وای. اوس خو هغه کیسه شوه چې «زیان دې وشه؛ عذر دې ومه شه» اوس خو د امنیتی شورا سلا کار هم وایي چې له دې هوکړه لیکونونه د امنیت تمه مه کوئ چې همدې خبرې د مشرانو جرگې مشر په غوسه کړی دی او وایي که امنیت تأمین نه شي؛ نو دا هوکړه لیک به بیرته لغو کړو؛ خو اوس دغسې بی وخته گواښ، له واده وروسته نکریزوته پاتې کیږي چې بیایې خلک پر دیوال ولي.

چالشهای امنیتی، فساد اداری و ...

(ادامه از صفحه اول)

... وحدت ملی وضع امنیتی بیش از پیش به چالش کشیده شود و وقایع خونباری را در پی داشته باشد که از آن جمله است واقعهٔ خیلی خونبار و حزن آور یحیی خیل پکتیکا که رئیس اجرائیه خود با جمعی از وزرا و اراکین بلند رتبهٔ دولت به محل واقعه رفته با مردم سوگوار یحیی خیل غمشریکی نمود. شهر کابل هم شاهد وقایع متعدد بود و خیلی از خونهای ناحق در آن ریخته شد.

این همه وقایع در زمانی انجام یافت که افغانستان دارای یک حکومت سرپرست بود. طبق اطلاعات منتشره، ولسی جرگه شش بار مسؤولین امنیتی را فراخواند تا معلومات دهد که وضعیت چرا به یکبارگی به این وخامت کشانیده شد؛ ولی جواب آنها این بود که ما سرپرست هستیم و مسؤول نیستیم. هکذا با آنکه جنرال ظاهر قوماندان امنیهٔ کابل تا پایان وظیفهٔ خود را با درک مسؤولیت اجرا کرد؛ ولی گفته میشود از سوی وزارت داخله تحت فشار بود تا از سمتش استعفا دهد، هکذا گفته میشود که وزارت داخله از سوی زورمندان خارجی مستقر در کشور ما تحت فشار بوده است. اگر این آوازه ها صحت داشته باشد، معلوم است که تنها مخالف مسلح یا بقول رئیس جمهور مخالف سیاسی نیست که در برهم زدن وضع امنیتی دست دارد، بلکه دستهای دیگری هم هست. وزارت اموزداخله میگوید: افغانستان با جنگ پیچیده و استخباراتی منطقوي رو به رو است و علت تشدید حملات مخالفین را امضای توافقنامهٔ امنیتی با امریکا می داند. درین شکی نیست که این یکی ازعوامل عمدهٔ تشدید این حملات میباشد؛ زیرا امضای این توافقنامه، عوارض جانبی متعددی را میتواند داشته باشد که با گذشت زمان آهسته آهسته سربرخواهد افراشت. درین شکی نیست که کشور های همسایه و کشور های منطقه از امضای این توافقنامه خوش نیستند. بعضی از کشورهای همسایه و منطقه از جمله ایران و روسیه با صراحت با این توافقنامه مخالفت خود را ابراز داشته بودند و پاکستان گرچه در ظاهر از آن استقبال کرد و آنرا نیاز افغانستان تلقی کرد؛ ولی بخوبی میدانیم که پاکستان از امضای این توافقنامه خوش نبود و تلویحاً نارضایتی خود را در ملاقاتهای خصوصی به گوش مقامات پیشین افغان رسانیده است. پاکستان خوب میداند که امروز امریکا بنابر نیازمندیهایش برسرش دست میکشد، کمکش میکند؛ ولی در فردا شاید روزی فرا برسد که امریکا نیازی به پاکستان نداشته باشد و در فکر آن شود که این کشور دارای بمب هستوي را از پا درآورد. امریکا با آنکه سلاحهای لیبیا را که از آن هراس داشت از آن کشورگرفت؛ ولی با آن هم برقذافي و نظامش نه بخشود؛ به مصر، فرصت نداد تا از مدار امریکا خارج شود، ایران را بخاطر ساختن احتمالی بمب هستوی مکرر فشار میدهد و این فورمول را همه گان بخوبی میدانند که در سیاست دوستی دایمی و دشمنی دایمی وجود ندارد. تا هر زمانی که منافع کشور هاایجاب میکرد باهم دوست هستند؛ ولی اگر گپ برعکس شد باز دوستی به دشمنی مبدل شده میتواند.

ما دیدیم که امریکا درموضوع کارگل (۱۹۹۸) چگونه پاکستان را تحت فشار قرار داد و پاکستان را وادار به عقب نشینی از منطقه کرد که همین امرباعث ایجاداختلاف شدیدبین صدراعظم نواز شریف و لوی درستیز جنرال پرویز مشرف گردید که کودتای (۱۹۹۹) را درپی داشت.

جنگی که امروز در افغانستان جریان دارد، بدون شک جنگ منافع بیرونیان چه کشور های همسایه و منطقه وچه هم کشور های بزرگ است و از همین جهت این جنگ خیلی پیچیده شده است.

در همین حالتی که از یک سو وضع امنیتی کشور بخصوص پایتخت خیلی وخیم شده است، از سوی دیگر سفرهای پی درپی رهبران دولت وحکومت و ازجانبی هم برخورد خیلی سرد با این قضیه همهٔ ملت را به تشویش انداخته است. درکنار آن که دولت خونسردانه ازین وضعیت عبورمیکند، فرهنگ سرپرستی برتمام دستگاه دولتی سایه افکنده است. اینک دوماه از سرپرستی وزرای پیشین گذشت؛ ولی روزیکشنبه مورخ ۹/۹/۱۳۹۳ رئیس دولت، سرپرستی، وزرای سرپرست را ختم شده خواند چون ولسی جرگه هم درین رابطه صدای اعتراض شدید خود را بلند کرده بود. بناءً معینان را بحیث سرپرست اعلان نمود و تشکیل کابینه را هم تاچهار هفتهٔ آینده وعده سپرد.

امید ما این است که این فرهنگ سرپرستی که بصورت طبیعی عدم مسؤولیت پذیری را باخود بهمراه دارد، دیگر درکشور ما پایان یابد. سرپرستی از لحاظ روانی هم عدم مسؤولیت پذیری را درکنارخود بهمره دارد.

آنچه را دولت با سکوت از سر آن عبور میکند و برای ملت قابل درک است، توجیهات دولت و سخنگویان دولت درهمه امور و همهٔ مراحل قناعت ملت را فراهم آورده نمیتواند؛ ولی مصالح عمومی کشور مردم را برآن داشته است که این همه نابسامانیها را با سکوت اذیت کننده تحمل کنند، رهبران دولت و حکومت هم باید دیگر ازین سکوت ملت استفاده سوء نبرده، مشکلات و اختلافات خود را به اسرع وقت حل کنند.

موضوع دیگری را که من میخواهم به آن اشاره یی داشته باشم این است که دولت جدید برتمام وزرای دورگذشته چلیپا میکشد درحالی که این قضاوت، قضاوت درستی نخواهد بود، چنین نیست که تمام دوزخیان روی زمین در کابینهٔ گذشته گرد آمده بودند و تمام بهشتیان درکابینهٔ جدید گرد خواهند آمد، اگر چنین باشد، خود رئیس جمهور هم وزیرکابینهٔ گذشته بود، رئیس اجرائیه هم ومشاورین ارشد، رئیس جمهورهم.

اگر حرف تنها برسرتخصص باشد که تشکیل کابینهٔ متخصص بعداز بوجود آمدن دولت جدید خیلی برسرزبانهاست، ما خیلی از متخصصین را درکابینهٔ گذشته داشتیم که کار های آنها بیش از همه مورد انتقاد بود و اگر دولت سوابق کاری آنها را با شفافیت ورق بزند بیش از همه به عدم شفافیت متهم خواهندشد، چرا درگمرک حیرتان سه ونیم ملیارد افغانی مفقود الاثر است؟ چرا قریب به یک ملیارد افغانی درگمرک تورخم مفقود است و چرا به ملیاردها افغانی در وزرانخانه های دیگر؟ همین وزرای متخصص وقتی به وزارتخانه ها معرفی میشدند هیچ چیز نداشتند و امروز صاحب همه چیز هستند، چرا ۳۳۳ دوسیه یی را که ریاست مبارزه علیه فساد اداری به لوی څارنوالی فرستاد مورد ارزیابی قرار نگرفت؟ آیا درین فساد ها متخصصین شریک نیستند؟ بناءً آنچه قبل از تخصص حایز اهمیت است تدین و تعهد است، در زبان پشتو میگویند: «اختر پټ میره نه دی» ما خواهیم دید که متخصصین آینده چه گلی را به آب خواهند داد. من از اهمیت تخصص انکار نمیکنم؛ ولی تخصص بدون تدین و تعهد دردی را دوا نمیکند، پس دولت باید اولتر ازهمه براین دو اصل اتکا کند.

احمد خالد (فیاض)

علاج همهٔ مصیبت های اجتماعی در دین مقدس اسلام نهفته است

هرقدر مصیبت هایی که در زندگی اجتماعی انسان ها وجود دارد برای رفع و علاج آن باید به دین مراجعه صورت گیرد. دین است که همه مصیبت های اجتماعی را علاج کرده راه را برای نجات از مصایب باز می کند.

اصلاً عامل اصلی پیدایش مصیبت ها دوری از دین و تخطی از فرامین وقوانین الهی است، مردمان بی دین و کسانی که از دین فاصله گرفته اند درایجاد مصیبت ها رول اساسی را بازی می کنند، بدکاران با بدکاری و ملحدین باالحاد و بی دینی، اجتماعات بشری را آلوده و مملو از مصیبت ها می سازند.

اگر مردمانی که دعوای دینداری و التزام به دین را دارند، مطابق به ادعا های شان به دین ملتزم باشند، همین التزام و پابندی مشکلات شان را حل می سازد، مصایب را نمی گذارد که برآنها هجوم آورده پریشانی ها دامنگیر شان گردد.

دین است که مقام انسان را بالا برده درصف ملایک می نشاند و از سلطه و حاکمیت شیطان نجات داده بسوی کمال راهنمایی می کنند. انسان به دین ضرورت دارد و زندگی دور از دین خوبی ها را از بین بُرده با فطرت سلیم در تضاد واقع میگردد؛ زیرا فطرت سالم انسانی به دین گرایش داشته دین در سرشت وطبیعت او دخیل است، روی این رسول خدا می فرماید: «هرطفل نوزاد با ایمان فطری به دنیا می آید، پس پدر و مادرش او را یهودی میسازند یانصرانی و یا آتش پرست».

خداوند (ج) صاحب فضل عظیم است یکی از فضل بزرگ الهی این است که بر انسان منت می گذارد و او را با ایمان فطری به دنیا می آورد و ایمان را در سرشت او جاداده مصدراصلی همه خیر وخوبی ها را در خلقت اش می گذارد تا مادهٔ اصلی خداشناسی و خداپرستی در فطرت اش موجود و با حفظ وصیانت آن از گندگی ها دور و همراه با نور وهدایت زندگی کند.

آن عده پدران و مادران که بی رحم اند در ادای مسؤولیت پدری و مادری توجه نمی کنند بلکه وسیله انحراف فرزندان شان می شوند. دشمن را نمی بینند از مکر ودغای یهودی ها، نصرانی ها و بقیه گروه های بی دین و گمراه دوری اختیار نمی کنند بر اولاد شان دلسوزی ندارند از زیان و اذیت یهود ونصارا اولاد های شان را برحذر نمی کنند با بی باکی کامل زندگی و نسبت بهٔ اولاد بی اعتنا می باشند. همین بی اعتنایی عده یی از پدران و مادران، فرزندان شان را به دام مکاران می اندازد، سبب میشود تا دروازه های نفوذ بی دینان را باز کرده از شر آنها درامان نمانند و افکار خانمانسوز بی دینی آنها را احاطه و در ورطهٔ آن درگیر شوند.

چرا انسان فضیلت و برتری انسانیت را در نظر نمیگیرد و همه احسانات و انعامات الهی را فراموش کرده باگندگی ها و آلودگی ها زندگی می نماید بالاخره خود را شرمنده ساخته به دنائت و پستی تن می دهد و با انتخاب راه شیطان از همه نعم اخروی خود را محروم ساخته با شیاطین و ابلیسان همنشین می شود؟!

احسانات پیهم الهی درهرلحظهٔ زندگی بر انسان سایه افکنده است و هر انسان ازین احسانات بهره بر می دارد و زندگی خود را دنبال می نماید. لازم است تا با غور و تأمل زندگی شود و در برابر نعمی که خدا به انسان داده شکر و سپاس به جا آورده شود تا از ناسپاسی و پیامد های ناگوار آن در امان مانده خدا را راضی سازد. ...

(ص، ۴)

نصرالله

بنه اقتصاد او امنیت د هیواد د استحکام دوه اساسي ضرورتونه

د اوسني ملي یووالي حکومت پر وړاندې ډیرې سترې ننګونې پرتې دي چې هر یو پخپل ځای اهمیت لري؛ خو په سملاسي ډول ترټولو سترې او ضروري ننګونې دوه دي یو دافغانستان اقتصادي بنسټ غښتلی کول اویل امنیتي وضعیت ښه کول.

دا دواړه پخپلوکې له یو بل سره داسې لازم او ملزوم دي لکه چې ملا او ګیډه. نه یواځې په ګیډه ژوند ممکن کیدای شي او نه یواځې په ملا؛ بلکې د ژوندي پاتې کېدو لپاره د دواړو شتون اړین دی. امنیت هله راتلای شي چې ترشاه ئې قوي اقتصاد شتون ولري اواقتصاد هله وده کولای شي چې په هیوادکې امنیت تأمین وي؛ نو ځکه ددی خبرې کلکه اړتیاده چې دواړوته یو شان پاملرنه وشي او په مساوي ډول ددواړو بنسټونو د تقویې لپاره عملي ګامونه واخستلی شي. ترهغه چې په دغو دواړو دګرونو کې پرمختګ ونشي هیواد وال که هم له ستونزو اوکړاوونو څخه خلاصون نشي ترلاسه کولی. که څه هم تیرحکومت د اقتصاد او امنیتي ځواکونو په پیاوړی کولو کې تر یوې کچې هلې ځلې کړي دي او څه ناڅه پرمختګ هم شوی. مګر دهیواد موجوده کړکیچن حالت ته په کتلو سره دا ایله د دریاب دیوې ځاځکي هومره دی.اوس هم د تیر په څیر اقتصادي حالت دومره کمزورې دی چې نه یواځې زموږ دامنیتي ځواکونو تنخوا نشي پوره کولای؛ بلکې لږ تر لږه دهغو سپکو وسلو ضرورت هم نشي پوره کولای چې عاجل ضرورت ورته لري. که له واقعیت نه سترګې پټې نه کړو؛ نو په دی خبره به ضرور اعتراف کوو چې د ولسوالیو په شاخوا پرتو سیمو کې مخالفې وسله والې ډلې زموږ له امنیتي ځواکونه څو برابره په ښه او پرمختللیو وسلو سنبالې دی او په امنیتي پوستو کې هومره کارتوس او راکټو ګولې نشته څومره چې له مخالفینوسره دي.

په کومه سیمه کې چې مخالف وسلوال شتون لري له هغوی سره په چریکي عملیاتو کې استعمالیدونکي وسلې په امنیتي پوستوکی له شته وسلو او ذخیروڅخه څو برابرې زیاتې دي. د بیلګې په توګه په یوه پوسته کې د موجودو لسو، پنځه لسو امنیتي ځواکونو سره ایله یوه پیکا، لس پنځه لس کلاشنکوفونه، دوه درې راکټې موجودی وي؛ مګر هغه وسله واله ډله چې پر پوسته برغل کوي ۳۰ – ۴۰ راکټې لس پنځه لس پیکاګانې، دهشکې، لسګونه کلاشینکوفونه، لاسي بمونه، ماینونه او نورې اړینې وسلې په لاس کې لري،

خرګنده خبره ده چې په دومره لوی فرق سره امنیتي پوسته نشي کولای هغوی ته ماته ورکړي. همدا لامل دی چې د ولایتونو او ولسوالیو له مرکزونو پرته نورې شاوخوا سیمې د وسله والو په واک کې دي او په یو هیوادکې عملاً دوه موازي حکومتونه کار کوي. مخالفین یې له حکومت سره د لاس لرلو پر شک ځوروي او ان تر دې چې وژني یې او حکومت یې له طالبانو سره د اړیکو لرلو په تور نیسي. دغه حالت عام ولس دومره تنګ کړی چې له خپل ژوند نه یې بیزاره کړی دی. موږ هره ورځ په خپلو غوږدلیو سترګو وینو چې د هیواد دپلازمینې په شمول ټول لوی لوی ښارونه دمخالفینو له بمي او راکټي بریدونو په امن کې نه دي او هره ورځ دلسګونو بې ګناه افغانانو وینې تویږي. په هیوادکې چې د ویرې ترهې کومه خپسکه ناسته ده ټول هیوادوال یې تر پوزې راوستې دي.امن او سکون یې تباه شوي او هیڅوک پخپل راتلونکي باور نه لري. داسې ژوند تیروي لکه د مرګ پرستنې پوری تړل شوی انسان هره لمحه دخپل مرګ شیبې شماري.

هیوادوال ظاهراً ژوندي ښکاري؛ خو په حقیقت کې د ژوند له ټولو خوندونو عاري او په غمونو کې ډوب دي. دغه حالت دتیرو څو لسیزو راهیسې روان دی او ورځ تربلې لمنه یې پراخیږي.

دملي یووالي حکومت چې له اولس سره په همدې ژمنه راغلی چې له هرڅه دمخه به دهیواد امنیت پیاوړې کوي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې به ورته سهولتونه برابروي دروند مسئولیت لري چې دهرڅه دمخه په لومړي ګام کې دهیواد امنیتي حالت د نورمال کولو او په څنګ کې د اقتصاد د پیاوړي کولو په خاطر ګړندي ګامونه واخلي چې لدی لارې وتوانیږي د اولس دهیلو غوټۍ وغوړوي او په مړو رګونو کې یې سا واچوي.

د هیوادوالو ترمنځ دا خبرې اترې عامې دي چې که چیرته اوسني حکومت هم په هیواد کې دامنیت او سولې په راوستلو کې ناکامه شي او اولس د شتو ستونزو له منجلابه ونه باسي نو هیواد به هر څه له لاسه ورکړي او زموږ د استقلال دښمنان به خپل شوم مرام ته ورسیږي، دملي یوالي حکومت مشران دی په دی واقعیت ځان پوه کړي چې اولس له دوی سره دمرستې او همکارئ قوي روحیه لري او دزړه له تل نه غواړي چې په هرنیک کارکې ملاتړ یې وکړي؛ خو دایواځې داولس په جذبه نه شي ترسره کیدای؛ بلکې حکومت ته پکار دی چې دهغوی د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره داسې بنسټ کیږدي چې یو مزبوت تعمیر ورباندې جوړ کړای شي. د حکومت او ولس ترمنځ اعتماد، خیرغوښتنه او متقابله احترام د روح او بدن مثال لري. حکومت او ملت پخپلو کې له کلک اعتماد او له ملاتړ پرته څه نشي کولای. تراوسه چې دواړو ترمنځ کومه خلا رامنځته شوی دهغه زیاتره پړه پرحکومتي چارواکو ده؛ ځکه چې هغوی د اولس د ملاتړ په جلبولو کې په مطلق ډول پاتې راغلي او هغه جوهر یې نه دی ښکاره کړی چې د ملت د باور دترلاسه کولو لپاره مقناطیسي رول لري.

دملي یووالي د حکومت له مشرانو څخه دهیواد ټولو با احساسو او خواخوږو وګړو غوښتنه داده چې د تیرحکومت له ناکامیونه دی د عبرت درس واخلي او هغه سهوې دې نه تکراروي چې د تیر حکومت مشرانو ترسره کړې وې دوی دی دهغوی په څیر د څو محدود کسانو په نرغه کې درانلو پرځای دټول ملت مشورته غوږ کیږدي او د هیواد هر وګړي ته دی پخپل ګرم غیږ کې ځای ورکړي.

ملت بشپړ باور لري چې که چیرته دملي یووالي مشران دخپل کړیدلي اولس ستونزو ته په پاملرنې سره پخپلو کې په بشپړ صداقت او اخلاص د هیواد امنیت او پیاوړی اقتصاد د ودې لپاره ملاوې وتړي؛ نو زموږ په هیواد او ولس کې دومره ظرفیت شته چې په څو راتلونکو کلونو کې اقتصاد او امنیت دومره پیاوړی شي چې د هیوادوالو شته اندیښنې ختمې او په رګونو کې یې دخوښۍ وینې وچلیږي. که الله مکړه د ملي یووالي دحکومت مشران هم له موجوده چلنجونو څخه دخرګوش په څیر سترګې پټې او د کیشپ په څیر مړ حرکت وکړي؛ نو هیڅ امکان نه لري چې دغه ډوبه کښتۍ دنجات ساحل ته ورسیږي.

ښه به دا وي چې د ملي یووالي د حکومت مشران د خپل خدای او ملت په وړاندې خپل دروند مسؤولیت ترسره. او خپلې درنې اوږې سپکې کړي. د ملت ارمانونه په نظر کې ونیسي او د اولس له اعتماد سره سم په هیواد کې د سولې او امنیت د ټینګښت او پیاوړي اقتصاد د ودې لپاره ګړندي ګامونه واخلي. له ټولو هغو منفي سیاستونو او روشونو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د ملي یووالی د ټوټې ټوټې کېدو باعث ګرځي؛ ځکه چې ملي یووالی د ملا د تیر حیثیت لري او همدې له لارې افغانان کولای شي خپل ټول مسایل په یو اتفاق حل او فصل او هیواد په مستحکمو بنیادونو ودروي.

انتخابات ریاست جوانان حزب ...

... اسلام و وطن متوجه ساخت.

سپس انجنیر نعمت الله معاون اسبق جوانان کندز گزارش فعالیت های یک سالهٔ جوانان را درین ولایت بیان نمود.

بعداً داکتر سیف الدین عمرخیل رئیس عمومی جوانان حزب اسلامی افغانستان راجع به وضع موجود در افغانستان صحبت نمود و از تلاش های خسته ناپذیر اعضای حزب اسلامی بالخصوص از جوانان درین ولایت در دوران انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی سپاسگذاری و قدردانی نمود.

در آخر به خاطر انتخاب رئیس، معاون و منشی جوانان ولایت کندز انتخابات صورت گرفت که در نتیجه حاجی هدایت الله حمدی با کسب اکثریت آرا به حیث رئیس جوانان، انجنیر محمد ظریف به حیث معاون و مدیر محمد صدیق صدیقی به حیث منشی جوانان حزب اسلامی در ولایت کندز تعیین گردیدند.

جلسهٔ مذکور با دعأ اختتامیه توسط قاضی عبدالصمد عضو شورای اجرائیه حزب اسلامی در ولایت کندز خاتمه یافت.

دکابینې له اعلان نه وروسته د حکومت مکلفیتونه څه دي او څه باید وي؟

فروغکر

ما په عنوان کې د اولویتونو پرځای دمکلفیتونو کلمه ځکه استعمال کړه چې مسلمان ملت او اسلامي حکومت ته حکومتولی د شرعي تکلیف حیثیت لري؛ بلکې شرعي تکلیف دی؛ له همدی لامله رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((کلکم راع و کلکم مسؤول عن رعیته)) ددغه حدیث په حکم د حکومتونو مقامات که څه هم لس تنه یې ترلاس لاندې کارکوي الله جل جلاله ته دخپل رعیت په برخه کې مسؤول دی ،پوښتنه تري کیږي چې تا خپل ملت ته د احکامو دپوهاوي په لحاظ ددغو احکامو دتطبیق او نفاذ په ارتباط څه ورکړل؟ دخپل رعیت دچارو په سمبالولو کې دې څومره کار وکړ؟ دحدودو او قیاس په باب او همدارنګه خلکو ته دهغوی دحقوقو په ورکړه کې دې کومې چارې ترسره کړې؟ ایا هغه دې وکړل چې ملت دی آبادوي؛ لوږه، فقر، نفرت، کینه، غلا، اختلاس، رشوت، ظلم، درواغ، انسان وژنه، زنا، لواطت او نورې ناخوالې په کې نه وي؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینا په حکم؛ څوک چې دهغه د امت دلسوتنو مشروي د قیامت په ورځ حساب کتاب ته لاس ترلې راوستل کیږي، که چیرې ښه حساب یې ورکړ نو له زنځیرونو خلاصیږي او جنت ته بیول کیږي او کنه په هماغو پخوانیو زنځیرونه یې ترلې جهنم کې نسکوروي!

ددې سریزې له مخې د افغانستان حکومت چې د ژمن اسلامی هیواد ژمن اسلامی جمهوریت دی ښایي دخپلو چارو په اولویتونو کې دغه وړاندیزونه ځای کړي:

* موږ په هیواد کې له هرڅه نه مخکې یوې داسې استراتیژۍ ته اړتیا لرو چې دهیواد او ملت شرایطوته په کتو سره دسولې او په هیوادکې د ثبات لپاره په سیمه پیزه، او نړیواله کچه دسولې د اعادې لپاره ګړندي ګامونه واخیستل شي. په دې کې شک نشته چې زموږ د امنیت دښمنان خورا پیاوړی دي، نردی چې دهغوی جواسیس په اداري سیستم کې نفوذ کړی، چې هر وخت وغواړي له خپلو بادارانو سره په هلو ځلو کې زموږ امنیت ګواښلی شي، ښایي زموږ امنیتی ادارو او کشفي اورګانونه د دوی ادرس ترلاسه کړی وي، خو اوسنی وخت ته په پاملرنې سره ښايي د مصلحت له مخې هغوی ته څه ونه واي. پرحکومت دی چې په حکومتي اداروکې دجاسوسو عناصرو پرضد پراخ تصفیوی عملیات وکړي او حکومتي اداري ددوی له لوثه پاکې کاندي، په دوهم پړاو کې هڅه دې وکړي چې د سولې عالي شوری پرجوړښت بیا کتنه وکړي او لازم اصلاحات په کې راولي او په دریمه مرحله کې له دخپلو هیوادونو سره پریکندي خبرې اترې پیل کړي او په دې توګه هغه مخالف جنګیالي چې دهیواد په سیاست کې دګډون هیله لري خبرو اتروته راکاږي او له دخپلو لوړیونه بین المللی تضمین واخلي چې زموږ په چاروکې به مداخله نه کوي او تردې وروسته به ددوی مداخله زموږ له هیواد سره دجنګ په معنی وي چې موږ نه د تاریخ په اوږدو کې ترې ویریدلي یو او نه اوس ترې ویریږو.

* نوی حکومت به په بل پړاوکې د افغانستان د ټولو خلکو دهوساینې لپاره، په هیوادکې د آزاد بازار اقتصاد طلسم ماتوي، چې په دې ظالمانه بازار کې بې چاره خلک غرق شول او هغو چې حرامي شتمنۍ را ټولې کړې دي لا پسې وپړسیدل.

په دې لړکې به دافغانستان د زراعتي کولو داسې استراتیژي جوړوي چې په تطبیق سره یې زموږ هیواد له بهرنیو هیوادونو څخه د ارتزاقي توکو له واردولو مستغنی شي او داکار ځکه ممکن دی چې موږ د اوبو ډیرې منابع لرو چې تر اوسه پورې تیرو حکومتونو هیڅ ګټه ترې نه ده اخستې. زمونږه پراخې کروندې چې که چیرې دمحصولاتو لپاره اماده شي، ښایي موږ هم ګاونډیو هیوادونو ته ارتزاقي مواد صادرکړو او په دې توګه کرنې او مالدارۍ ته به وده ورکوي او د هیواد سیندونه به داسې مهاروي چې هم دانرژۍ اسباب برابر کړي او هم زموږ د ښارو ځمکو د ابادولو لپاره نوی نهرونه او لویې ویالې وکیندل شي.

* د هیواد طبیعی زیرمې او ځنګلونوته جدي پاملرنه په کارده؛ ځکه په تیرو حکومتونو کې زموږ د چاپیریال سره سره له طبیعی زیرمو سره هم ستره جفاوشوه او لاهم د هیواد ډیر معدنونه دزورواکانوپه ولکه کې دي.

* د ځمکې له غاصبانو، د رغنیزو پروژو له غلو، فاسدو چارواکو سره محاسبه به دنوي حکومت بل کار وي چې که چیری غلاشوي شتمنۍ دحکومت لاس ته ورشي، ښایی هیواد به مو نیغ په نیغه په پښو ودروي، زه خولا وایم چې ځینی کسان دی له همدغه اوس نه له هیواده ممنوع الخروج اعلان شي او ترهغه یې چې حساب ،کتاب نه وي ورکړي؛ بهرته دې یې نه پریږدي.

* د معارف، لوړو تحصیلاتو او فرهنګ وزارت په برخه کې بنیادی اقدامات وشي او د پوهنې په نصاب کې بیا کتنه وشي؛ ځکه چې اوس لله الحمد دلیرې دورې د معارف د کمیت په باره کې دومره پراخ کار شوی چې که چیرې کوم مدیر وزیر دپوهنی د پخواني وزیر ځای ونشي نیولی، نو دومره پراخو تشکیلاتو ته د معیاري نصاب برابرول اسان کار نه دی او په دی نصاب کې خو را زیاتې تروتنې شته چې یا د وخت دلړوالي په نتیجه کې رامنځ ته شوی اویا داچې په نصاب کې واردو وګړو پرې کارنه دی کړی، موږ باید معیاري نصاب ولروچې په معیار برابر شاګردان وروزو، ځکه چې همدغه شاګردان سبا پوهنتونونو ته ځي او پوهنتونونه خو هغه ده ښکاره ده چې دنړۍ هیوادونوته د ژوندانه په بیلابیلو برخو کې متخصص وګړي فارغوي او بیاهم دغه وګړي دهیواد چارې سنبالوي.

* داخلی سوداګر ښایي وهڅول شي چې په هیواد کې پرتولیدی کارخانو پانګونه وکړي او هغوی ته دحکومت له خوا ځینی امتیازات ورکړي چې دنورو بې کیفیته وسایلو له پیرلو خلاص شو او هم مو دسوداګرو د لاس محصول د نورو په جیبونو کې ونه لویږي، ددی ترڅنګ بهرني پانګوال هم دلته په خپل هیواد کې پانګونې ته تشویق کړو.

اوس خو حکومت په پلان کې لري چې د وریښمو او لاجوردو ترانزیتی لارې هم پرانیزي او په څنګ کې یې دچا بهار په برخه کې هم پاملرنه وشي چې دګاونډیو هیوادوله خورولو او ربړولو زموږ سوداګر بې غمه شي او په داده زړه خپلې سوداګریزې چارې پرمخ بوزي.

*موږ چې نن سبا په ملی کچه کومې ضربې وینو او له هرې لارې دښمن پر موږ لارې کوي او ترحملو او بریدونو لاندې مونیسي. دا ټول له دې لامله دي چې موږ په تیرو نږدې څلورو لسیزو کې د ملي وحدت په برخه کې ډیرې ضربې ولیدې او خورا ناخوالې مو وګاللې، حکومت هم د آسماني قانون له مخې او هم د نړیوالو قوانینو له مخې شرعي تکلیف لري چې په ټول توان سره هغه نیمګړتیاوې چې له دې درکه زموږ ولس او هیوادته ور په برخه شوي جبران کړي. په دې معنی چې ملي وحدت دې دخلکو په روښانولو سره تأمین کړي. هغه په زرګونو کورنۍ چې له خپلو کورونو بې ځایه شوې او د همدغو عصبي جاهلي جګړو او تربګنیو له لامله بې کوره شوي، بیرته خپلو ټاټوبوته راستنی کړي او د مهاجرینو د بیرته راګرځولو معقولې نړیوالې لارې ولټوي. ځکه تر هغه چې زموږ ملی وحدت تأمین نه شي، هیڅ کله نشو کولای پرخپلو پښو ولاړمتحد هیواد ولرو.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سراسري ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۶۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نهٔ مستردیږي . ‌بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

علاج همهٔ مصیبت های اجتماعی ...

(ادامه از صفحه دوم)

... انسان بدون استمداد از ارشادات دینی، توانایی آنرا ندارد که همه نیکی ها و بدی ها را بشناسد و در انتخاب خوبی ها کامیاب گردد، عاقلترین انسان ها هم ضرورت دارند تا به راهنمائی های دین گوش گیرند و به آن تسلیم و با استفاده از آن بسوی کمال و سعادت گام بگذارند. دین است که کمبودی ها را مرفوع و چهره های اصلی همه نیکی ها و بدی هارا معرفی و در زندگی. انسان را همراهی می کند تا از بدبختی ها نجات یافته سعادت وخوش بختی های همیشگی نصیب اش گردد.

کم بینی و بی توجهی نسبت به دین، سبب اتحاد و ازدیاد مشکلات در اجتماع انسانی میگردد. هنگامیکه اصول و ضوابط ثابت دینی معیار اصلی زندگی انسان ها قرار داده شود و برای سیر وتکامل اجتماع، به دین رجوع و احکام متین آن درعمل پیاده گردد هیچگاه ذلت و خواری دامنگیر مردم نمی شود و مصایب ومشکلات، کیان هستی اجتماع را تهدید نکرده راه را برای ماجراجویان فتنه انگیز باز نمی سازد بلکه مردم با راحت و آرامی زندگی می نمایند و از مصیبت ها دور باقی مانده از زندگی لذت گرفته با خاطر آرام به عبادت خدای واحد ولایزال می پردازند و از هرلحظهٔ زندگی بهره برداشته در رشد و ارتقای معنویت دست می یابند که بالاخره آلودگی ها کاملاً از جامعه دورشده باتقویهٔ صفات ملکی خاصیت ملکی بودن دروجود تبارز پیدا می کنند که درنتیجه انسان در پهلوی آنکه حق خالق را ادا کرده در ایجاد نظام خالص الهی کارمیکندو خدمتگار واقعی مردم شده با صداقت، راستی واخلاص کامیابی خود را درکامیابی دیگران می بیند و با انسجام بهتر امور اجتماعی مصداق عملی این حدیث میگردد که پیامبر اسلام (ص) فرموده اند: «ایمان (کامل) نمی آورد هیچ یکی از شما تا آنکه دوست دارد برای برادر (مسلمان) خود آنچه را که برای خود دوست دارد».

دین است که فلاح و رستگاری انسان را ضامن شده حقوق و وجایب را با دقت و سنجش کامل در پیش روی انسان می گذارد،مسؤولیت های ایمانی انسان را روشن میسازد و حق می دهد تا هرکس از حقوق و امتیازات دینی استفاده کرده در برابر مکلفیت ها و وجایب احساس مسؤولیت نموده گردن نهد و با انقیاد کامل آنرا ادا نموده باشایستگی کامل زندگی کند.

زندگی روی هدف و مسؤولیت استوار است که شناخت آن یکی ازوجایب اصلی انسان می باشد و در پهلوی آنکه انسان هدف و مسؤولیت زندگی را باید درک کند و بشناسد، عمل به آن وجیبه دیگوی است. هرگاه درک مسؤولیت و عمل به آن درکنار هم قرار گیرند، انسان در مسیر اصلی زندگی راه می یابد که کمال وسعادت را درنظر گرفته حرکت می کند. دین است که این هدف را مشخص و مسؤولیت را نشان می دهد همان طوری که خداوند (ج) در قرآن پاک می فرماید: آیا شما می پندارید که شمارا عبث (بیهوده) آفریدیم و بسوی ما باز نمی گردید یعنی اگر تصور شما این باشد که انسان بدون هدف، عبث آفریده شده است و بعد از مرگ بسوی الله (ج) باز نمی گردد این یک تصور خطا و غلط است بلکه انسان روی هدف خاصی خلق شده است و به حضور خداوند (ج) باز می گردد و از هر آنچه که در زندگی دنیا انجام داده است پرسان می شود و درگرو عمل خود قرار می گیرد چنانچه قرآن پاک می فرماید: هرشخص درگرو عمل خود قرار دارد. اگر عمل نیک را انجام داد پاداش خوب برایش داده میشود و اگر عمل بد را مرتکب گردید جزای کردار بد خود را می بیند و ذره ای از اعمالش فروگذاشت نمی شود.

هدف از خلقت تشریعی انسان عبادت خداوند (ج) است، انسان خلق شده تا خدا را بشناسد و او را عبادت کند و هرآنچه که درذمه اش گذاشته شده است انجام دهد. برای اینکه انسان مکلفیت های شرعی و دینی را بداند و به آن التزام داشته باشد باید به دین مراجعه کند و دین را مصدر اصلی همه خیرو خوبی ها دانسته وسیله نجات در دنیا و آخرت بداند و دوری از دین (اسلام) را سبب آلودگی ها و مشکلات و مصایب دانسته مصیبت‌های موجود اجتماعی را دلیل دوری از دین و دین را علاج همه مصیبت ها بداند.

گسترش فرهنگ معنوی جهاد وجیبه دینی

سحر - گلبهاری

یکی از مسایل مهم که مجاهدین بعد از پیروزی به آن کمتر پرداخته اند، نوشتن خاطرات دوران جهاد است که میتواند کسر غنای فرهنگی جهاد ملت مانرا به نمایش بگذارد.
جهاد مردم غیور و مسلمان افغانستان که از بزرگترین رُخداد های تاریخ قرن بیستم محسوب می شود، ایجاب می کند تا هر یک وقایع و حوادث آنروز را در حد توان خویش تحریر و از طریق منابع فرهنگی احزاب جهادی، افراد خیر و یا امکانات شخصی به نشر آن اقدام کنیم. گرچه نشر و چاپ آن که بدون تردید هزینه برمیدارد و شاید از توان اکثریت نباشد ؛ اما نشر و چاپ این دست نوشته ها ممکن است در آینده میسر گردد.
در هر حالخاطرات آنروز از کمپیوتر ذهن باید پیاده شده و به صفحه کاغذ نقش بندد، زیرا با گذشت زمان حوادث گذشته فراموش شده، همچنان با مرگ و میر افراد، خاطره ها نیز نابود می گردد.
در زمان جهاد کمتر کسانی بوده اند که از عملیات بالای دشمن و یا از حملات قوای اشغالگر شوروی و رژیم مزدور آنبالای سنگر هایمجاهدین عکس و یا فلمی تهیه نموده و امروز در اختیار داشته باشند . در آن وقت مجاهدین اکثراً این نوع فعالیت ها را گناه دانسته، معتقد بودند که، رنگ ریایی را گرفته و ثواب شان ذایل می گردد. متأسفانه ! این انگیزه باعث شده بود تا مجاهدین به این نوع فعالیت های تبلیغاتی که امروز بسیار با ارزش است، کمتر بپردازند.
از جانبی هم تعدادی از افراد استفاده جو، با تهیه فلم از صحنه های جهاد، آنها را در معرض فروش و دید مردم در خارج قرار داده ازین مدرک سوء استفاده می کردند که این سوء ظن ها باعث گردید تا کار نامه های جهاد کمتر انعکاس یافته باشد . لیکن بودند احزاب و قوماندانانی که در آن روز به این قضیه توجه بیشتر داشته و برای بزرگ سازی خود و یا فرماندهان شان بسیار تلاش نمودند و امروز در آرشیف تنظیم مربوط ویا قوماندانانیکه بدین وسیله معروف شده اند، بصورت وافر عکس ها و فلم های مستند جبهات وجود دارد و هرازگاهی از طریق رسانه های صوتی و تصویری به نمایش گذاشته می شود، از دید نسل جوان که با وقایع گذشته، آشنایی نداشته اند بسیار عجیب به نظر می رسد.
قضاوت جوانان اینست که گویا اگر جهاد هم بود همین بود و اگر جنگ هم کردند همین ها کردند!
پس لازم است تا تک تک ملت بخصوص آنانی که در سنگر های جهاد عملاً جنگیده اند و یا در عقب سنگر ها در بخش های تعلیمی و یا اکمالاتی تلاش ورزیده اند ، خاطرات شانرا نوشته و آنرا برملا سازند تا عظمت جهاد معلوم شده و حماسه های درخشان ملت مان جاودانه بماند.
اگر از همه صحنه های تجاوز قشون سرخ بر کشور ما و از حملات بی رحمانه زمینی و هوایی آنها که منجر به ویرانی قراء و قصبات گردید و آبادی های کشور ما اکثراً با خاک یکسان شد فلم و عکس موجود می بود و از میزان تلفات سنگین جانی حضور شوروی در کشور ما که بیش از دوملیون انسان شهید، یک میلیون مجروح ومعلول و ملیونها انسان مجبور به ترک خانه های شان شدند، اسناد مستندی می بود، حامیان امروز حقوق بشر میدانستند که در کشور ما چه گذشته است!!
در زمان حاکمیت احزاب خلق و پرچمتعذیب و شکنجه در زندانهای افغانستان به ویژه پلچرخی چنان درد آوربود که انسان از دیدن و شنیدن صحنه های دلخراش آن به خود می پیچد.
اکنون که ما در مرحله جدیدی قرار داریم در حد توان بکوشیم تا حوادث جهاد را نوشته ویا اگر خود سواد نداریم، به کسانی که از خانواده و یا دوستان ما با سواد اند بگوییم تا آنرا به رشته تحریر آورند تا باشد که دَین خود را اداء نموده برای نسل فعلی و آینده، حقایق را برملا سازیم.
من در حالیکه عدم رضا و رغبت دیروز مجاهدین را که مانع نگارش حوادث می شد، چندان رد نمی کنم، چون تقوا و اخلاص مجاهدین یقیناً به کمال خود رسیده بود که اعمال روزمره شانرا در محک سنجش قرار میدادند و از کارهاییکه خلاف دین و یا موجب نارضایتی پروردگار می شد، خود داری می کردند ؛ اما در عین حال غفلت در این زمینه را عیب دانسته، برای مجاهدین که دیروز به چنین کاری تن نمی دادند، امروز مشوره می دهم که اکنون نیز فرصت است باید به چنین امر مهم که باعث انعکاس درد و رنج ملت، افشای جنایات کمونیزم در افغانستان می شود . دریغ نکنند ؛ زیرا بزرگی ملت ما در بزرگی و عظمت فرهنگ و تاریخ شان است.
حتی ایجاب می کند تا مجاهدین تحصیل یافته روزمرهاز ۲۴ ساعت حد اقل یک ساعت را به نوشتن چنین کار بزرگی تخصیص دهند تا در آینده دشمنان اسلام، تاریخ جهاد را مسخ نکرده و حوادث را به میل خود شان ثبت تاریخ نسازند مانند: کتاب اردو و سیاست نوشته نبی «عظیمی» که جهاد مقدس را جنگ تشبه نموده آنرا وارونه جلوه داده است.
سپس ازهمه سپاهیان اسلام و سنگرداران جهاد، مجدانه تقاضا بعمل می آید تا دریـن راستا (جهاد فرهنگی) غفلت ننموده حماسه های آنروز را به فراموشی نسپارند.

د خصوصي پوهنتونونو او خصوصي ...

داسې یو بورډ جوړ کړی چې د ښوونځیو د زده کوونکیو ترمنځ به سیالي ترسره کوي.
په دغه لیدنه کې د کابینات د ښوونځي مشر محمد یار ستانکزي وویل چې د امهال تول په هیواد کې شاوخوا ۷۰۰ خصوصي ښوونځي او ۹۰ خصوصي پوهنتونونه فعالیت کوي چې په وزګونو خوانان او تنکي هلکان یکې په زده کړو بوخت دي.
د اجراییه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمدخان د خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو د استازو راتګ او د ملي وحدت له حکومت څخه یې د دوی له ملاتړ څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د پوهنې په برخه کې چې هرڅومره پرمختګ وشي؛ دا به د راتلونکی نسل خوشبختي او نیکمرغي وي.
لومړي مرستیال ټینګار وکړ چې د ښوونځیو او پوهنتونو په برخه کې باید ډیر کوښښ وشي څکه دا کار د هیواد د راتلونکي د پرمختګ او کامیابی سبب ګرځي.
انجنیر محمد خان د خصوصي سکټور استازو ته په وینا کې وویل چې د کمیت پرځای باید پر کیفیت کار وشي، داڅکه چې د پوهنې په برخه کې ډیري ستونزې دي چې د افغانستان ولس ورسره مخ دی.
د اجراییه ریاست لومړي مرستیال د پوهنې او روزنې په برخه کې کار او فعالیت د حکومت او خلکو ګډ مسوولیت وباله او له خصوصي سکټور نه یې غوښتنه وکړه چې د افغانستان د راتلونکې نسل مسوولیت په همدې برخې پورې تړلی دی.

ولسمشر غني او اجراییه رئیس...

د شاوخوا دري لکه او پنځوس زره سرتیرو پر مټ د ټولو امنیتي مسوولیتونو منلو ته چمتو دی.
ټاکل شوي چې ولسمشر اشرف غني او اجراییه ریاست مشر داکتر عبدالله وروسته په لندن کې د افغانستان د مرستندویو هیوادونو په ټریوال کنفرانس کې برخه واخلي، د لندن کنفرانس له افغانستان سره د ټریوالي تولنې د مرستو د دوام لپاره خورا زیات مهم بلل کیږي.

شمار بیماران ایدز در افغانستان ...

اچ آی وی در افغانستان نسبت به نفوس کشور بیشتر نیست اما او می گوید که این موضوع نباید روند مبارزه با این بیماری را کند کند.
صدها نفر در افغانستان معتاد به مواد مخدر هستند که بیشتر آنها مواد را از طریق تزریق به بدن شان وارد می کنند.
گفته می شود که شمار مبتلایان به اچ آی وی در میان معتادن بیشتر از افراد عادی جامعه است.
با این حال، احمد جان نعیم، در باره خطر گسترش این بیماری از طریق تزریق های غیربهداشتی هشدار داد.
مقامات محلی در هرات و بلخ می گویند که در مجموع بیش از ۲۰۰ مورد اچ ای وی مثبت را در این ولایات ثبت کرده اند.
عارف شهرام، مسوول اداره مبارزه با ایدز در هرات می گوید که ۱۶۲ مورد اچ آی وی مثبت در این ولایت ثبت شده است که تاکنون هشت تن از بیماران جان خود را از دست داده اند.
آقای شهرام گفت، بیشتر افراد که اچ آی وی مثبت داشتند از طریق استفاده از سرنج های آلوده به این بیماری مبتلا شده اند.
در همین حال، داکتر میرخالد ربیع، مسوول اداره مبارزه با اچ آی وی در بلخ می گوید که تاکنون ۳۹ مورد واقعه مثبت اچ آی وی در این ولایت ثبت شده است.
به گفته آقای ربیع، از مجموع این افراد شش تن شان زنان هستند.
شمار افراد که در بلخ به سبب بیماری ایدز جان خود را از دست داده، به ۵ تن می رسد.

حمله انتحاری در مراسم تشیع ...

در این انفجار ۹ تن کشته شده که دو تن آنها پولیس بودند.
آقای بشارت می گوید که این انفجار حوالی ساعت ۱۱ پیش از چاشت روز دوشنبه در یک قبرستان در ولسوالی بورکه صورت گرفته و دست کم ۲۰ نفر دیگر به شمول دو مامور پولیس زخمی شده اند.
انفجار در مراسم تشیع جنازه حکیم بای، از بزرگان قومی صورت گرفته و هنوز هدف حمله کننده مشخص نیست.
تاج محمد تقوا ولسوال بورکه اما در گفتگو با رسانه ها گفته است که هدف این حمله خود او بوده است.
آقای تقوا می گوید که او در زمان انفجار به محل حادثه نبوده و لحظات پیش محل را ترک کرده بود.
مسوولیت این انفجار را تا هنوز فرد یا گروهی به عهده نگرفته است اما سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت بغلان می گوید که تحقیقات در پیوند با این حمله آغاز شده است.
بغلان در شمال کشور از ولایت های ناآرام کشور است که هرازگاهی شاهد رویداد خونین بوده است.
پیشتر، براثر انفجار در قبرستان در بخش های کشور، چندین نفر کشته شدند.
مقامات نظامی گویند که تروریستان در جنگ رویارو با نیروهای امنیتی شکست خورده و به حمله در شهرها و اماکن تجمع مردمی روی آورده اند.

اشرف غني له طالبانو سره ...

ورکړي دي.
پاکستان په دې هکله چمتووالی ښودلی، چې د اشرف غني او طالبانو تر منځ د خبرو اترو په بهیر کې به مرسته وکړي، خو دا څرګنده نه ده، چې دغه هیواد به په رښتیا هم پر خپله ژمنه ودریږي کنه؛ پخوا هم د کرزي د واکمنۍ پر مهال پاکستان په دې برخه کې د همکارۍ ژمنې کړې وې خو تل یې منفي رول لوبولی و.
د هند حکومت د پاکستان پر دغو څرګندونو باور نلري او وایي، چې له افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته به پاکستان هڅه وکړي، چې په افغانستان کې نا امنۍ نوره هم زیاته کړي.